سمیع الدین افغاني ۲۰۱۶/۰۳/۲۲

# ګیله مند

زه د حـــــالاتو نه په تنـــــګ راغلم
د خپل تدبیر سره په جنــــــګ راغلم

مـاویل چې ښکل به کړم روښانه لاره
پـــــه سرنوشت کې د پتنــګ راغلم

زه د خپـل ملـک د پادشاهي په هیلـه
خـــو په حسـاب کې د ملنــګ راغلم

ما سره ښـــکلي ارمـــانونه زړه کې
خـو نامراده تړې په ځنــــګ راغلم

هغـــه حساب چې مي د ژوند درلوده
زه پـه مسیر کې د نیرنـــــګ راغلم

ماویل چې زه به خپـــل منزل ته رسم
پــــه حقیقت کې پـــه بل رنګ راغلم

د پاکو هیلـــو ، ارمــــــانونو ښار نه
زه افغــــاني تړي ګیلــــــه مند راغلم

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ